
# Interview Mohammsd Afzal Khan (Khan Lala)



**Lapa Quarterly of SRAK CIVIL & CULTURAL ASSOCIATION**

Interviewer: Mohammad Asif Wardag

June 2007



# ((خپل ملک او وطن افغانستان ته په ویزه راغلی یم))

د درانه مشر او ملي شخصیت ښاغلي محمد افضل خان (خان لالا) او محمد اصف وردګ د زړه خواله

کله چې موږ یوه لوی او ښکلي تالار ته ور ننوتلو، مخامخ د لویو پوسټرونو په منځ کې مې سترګې پر غټو ټکو ولګیدلې چې لیکل شوي وو:

ساه مې واخله خو پښتو رانه وانخلې — زه پښتون یم په پښتو باندې پتمن یم

که زما ((ستوري)) په قبر چېرې راشې — په پښتو راته دعـــا کړه پرې مین یم

و دریدم او د یوه انډیوال په توګه مې د خپل ارواښاد انډیوال دغې غوښتنې ته د درناوي په توګه خپل لاسونه لپه کړل او په پښتو مې د احترام مراتب پر ځای کړل.

د لته د یوه افغان عالم، ملي مبارز، د PSDP مشر او بنسټ ایښودونکي ارواښاد ډاکټر کبیر ستوري د لومړي تلین یاد غونډه وه چې په ۲۰۰۷ – ٦ – ۸ نېټه د جمعې په ورځ د مازدیګر پر شپږو بجو د جرمني د هورت د ښار په Event Palast لوی تالار کې جوړ شوې وه او د څلورو سوو په شا وخوا کې یې افغان ګډونوال درلودل.

د دغو مشرانو، روڼاندو، فرهنګیانو، فرهنګپالو او علمي شخصیتونو په کتار کې یو هم افغان وتلی قومي مشر، د افغان ملي وحدت یو زړه سواندي لارښود نومیالي سیاستپوه، د عوامي نشنل ګوند ANP مشر ښاغلی محمد افضل خان مشهور په ((خان لالا)) هم تر سترګو کېده چې د یوه ګران میلمه په توګه یې په دغې غونډه کې برخه اخستې وه. مخکې له دې چې غونډه پیل شي، د مشر میلمه روغبړ ته ورغلو، د پښتني مینې په تودو غېږو مو یو بل و نازول.

دا چې خان لالا ته به نور په کومه سترګه ګوري، هغه د دوی خپل کار دی، خو زما له سترګو یو فقیرخویه مسلمان، یو درونډ، بې کبره صاف ساده پښتون دی. خان لالا د فقیرۍ په عالم کې سپینې خبرې کوي او په ټوله امانت دارۍ سره یې خپل افغانیت او افغاني غرور ساتلی دی.
د غونډې په تالار کې له خان لالا سره تر روغبړ وروسته خبرې ډېرې لنډې وې، ځکه غونډه پیل کېده. افغاني دود ماته حکم کاوه چې خان لالا ته د یوه ګران میلمه په توګه د میلمستیا وړاندیز وکړم او په وردګي غریبانه «کورتو» یې ونازوم، د زړه خواله به ورسره وکړو او هم به د وطن پر حالاتو یوه هر اړخیزه مرکه د خپلو درنو لوستونکو مخې ته کېږدو. درانه مشر په ډېره مهربانۍ سره زما وړاندیز ومانه، خو په خواشینۍ سره چې د وخت د کموالي له کبله دغه ویاړ ماته را په برخه نه شو او په بیړنۍ توګه وطن ته روان شو. خو سره له دې هم کله چې خان لالا د فرانګفورت هوایي ډګر ته د تګ په حال کې و، زه وتوانیدم چې په بیړه- بیړه دواړه ټلیفوني بنډار وکړو.
زه د PSDP د مشرانو جرګې او په ځانګړې توګه ښاغلي نصیر ستوري له همکارۍ نه مننه کوم چې د دې مرکې زمینه یې برابره کړه.
د نوموړې غونډې په هکله یوازې دومره غواړم ووایم چې: د دغې درنې غونډې پر درونډوالي سربیره، پر ځینو محتویاتو یا اړخونو په خاصه توګه د ځینو ویناوالو پر ویناوو درنې نیوکې هم لرم، خو د خپل ارواښاد انډیوال ډاکټر ستوري د اروا په احترام یې له تبصرې او یادونه ډډه کوم.
ستاسې انتظار هم لنډوم، خو د پور د پرېکولو په خاطر باید یادونه وکړم چې دغه Eventpalast سالون چې د تکړه افغانانو له خوا ډېر ښکلی او مډرن جوړ شوی دی، د دوی ټولو د پاکې افغاني روحیې او پښتني مینې او میلمه پالنې مننه وکړم. زه به مې خبرې نورې لنډې کړم، او له درانه مشر «خان لالا» سره د زه برا اس به د «لیکې» له درنو لوستونکو سره هم شریک کړو.

په مینه او ادب


ستاستو خدمتګار محمدآصف وردګ

۱٤ـ ٦ ـ ۲۰۰۷ جرمني

(له روغبړ نه وروسته)

**آصف وردګ:** خان لالا المان ته مو دا ځل راتګ رسمي بڼه لري او که شخصي؟

**خان لالا:** المان ته په دې وجه راغلی یم چې دلته کې د یو ډېر عظیم شخصیت چې د هغه نوم کبیر ستوری دی د هغه خدای بښلي لومړنۍ تلین و. زه د سکول (ښوونځي) له وخته په دې ذهن یم او دا سیاسي مفکوره مې ده چې پښتانه شته او قام نه شته. قام په ۱۸۹۳ ز کال کې انګریزانو وېشلی دی، د هغه خاوره یې هم تقسیم کړې ده چې دا مفکوره د کبیر ستوري هم وه. هغه داسې یو انسان و چې یوازې دا مفکوره یې نه وه بلکې د دې مفکورې چې په پښتنو کې څوک حامیان او لرونکي وو د هغوی نه یې هم ځان خبراوه او ځان یې ورته رساوه. لهذا دلته چې د ده دا پارټۍ د PSDP کار کوي ګڼ ملګري چې د کار خلک دي پکې شته دي. هغوی چې خپل لومړنۍ کمیسیون جوړاوه زه یې هم ورغوښتی وم، اوس چې د هغه تلین و نو ما دا خپل فرض ګاڼه چې په دغه تلین باندې حاضر شم او خپل عقیدت د هغه په برخه کې وړاندې کړم.



**وردګ:** په دې غونډه کې ما د یوه عیني شاهد په توګه له ځینو ویناوالو نه ګډې وډې خبرې واورېدې چې اصلاً یې د غونډې له روحیې سره تړاو نه درلود، چې تاسې هم د یوه محترم میلمه او مشر ویناوال په توګه شاهد یاستئ. دا د اروابښاد ډاکټر ستوري لومړنۍ کلیزه وه، ښه به داوه چې دوستان د اروابښاد پر کارنامو غږېدلي وای، نه په خپلو کارنامو. یو بل د سیاسي څېړونکي په نامه راجګ کړی شو او د دغه دریځ (سټیج) نه یې د ښوونکي په توګه غونډه والو ته د کمونیزم د بدنام او ناکام مکتب د وړکتون سبق شروع کړ. نه یوازې دا چې دغه دریځ د دې بحث لپاره نه و اورېدونکي یې هم نه درلودل. تر دې ټولو خو ماته ډېره د حیرانتیا خبره دا وه چې یو بل نازولی میلمه چې تر ټولو یې جګ کینولی و د یوه مبارز پښتون په نامه یې را جګ کړ او د خپلو خبرو

په ترڅ کې یې پښتون واحد قوم او افغان خاوره په څو ټوټو و وېشله، یوې ټوټې ته یې پاکستانی پښتون ووایه او بل ته یې افغانی، تاسو یې هم د پاکستاني پښتون په وېش کې راوستلئ، زه نه پوهیږم چې ده ته خپل ولدیت او تاریخ معلوم نه و که د ISI پښتون و. دغه ډله په کوم منطق پښتون قوم او افغان خاوره په پنجابیانو پورې تړي، نه پوهیږم چې دوی ډېر بې عقل دي او که وطن فروشان او که دا نه وي نو دا حق دوی ته چا ورکړی دی؟ ځینې نور وایي دا لر او بر پښتانه، خان لالا دا لر او بر پسې څه مانا؟ دغه ګوډاګیان ولې د افغان په یو واحد ملت کې ملیتونه او د پښتون په یوه واحد قوم کې قومونه او لر او بر جوړوي. افغان پښتون خو یو قوم دی، اصلاً لر او بر نلري، دا په کوم منطق کیدلی شي چې یوه

ورور ته پاکستانی او بل ورور ته افغانی وویل شي

په دې اړه د یوه افغان قومي مشر او سیاست پوه په توګه ستاسو نظر څه دی؟


**خان لالا:** وردګ صاحب! که تاسو ورته خیال کړی وي ما په دې غونډه کې په خپله وینا کې ویلي و، چې لر او بر چې زه اورم ماته ترې ډېر درد رارسیږي او د دې نه دا معلومیږي چې موږ په لاشعوري توګه د غاصب هغه عمل منو.

**په افغانانو (پښتنو) کې لر او بر نشته، د ده په سیمه کې هم لر او بر نشته. اوس هم زه تاسو ته وایم چې پښتون یو قومي وحدت و، یو قومي وحدت دی او یو قومي وحدت به په خپله ترلاسه کوي. دا زما یقین دی ځکه چې دا یې فطري حق دی، دا یې قانوني حق دی، دا تقسیم نور داسې نه شي پاتې کېدای، دا قوم به سره یو کېږي، ځکه دا یو واحد قوم دی.**

**په ۱۸۹۳ ز کال کې انګریزانو موږ له خپل اصلي کور افغانستان نه بهر کړو، په یوه**

حصه باندې يې دا نوم ((افغانستان)) پرېښود او نورې درې توکړې يې ځنې وشلولې او په هغې باندې يې داسې نوي نومونه کېښودل چې له هغه زاړه نوم سره يې هېڅ رابطه نه وه، ځکه هغوی غوښتل چې دا جذبه پاتې نه شي او ختمه شي. مقصد يې دا و چې د هغوی ۱۳۷۳٤ پوځيان چې له سفير مکناټن سره په خورد کابل او بالاحصار کې ټول وژل شوي وو د هغوی د قوت د ماتولو لپاره يې دا قدم واخست، چې دا تجزيه يې وکړه. هغوی ويل په افغانانو کې دا مټې د چا دي چې موږ يې ختم کړو نو هغوی دې نتيجې ته ورسيدل چې په افغانانو کې دا مټې د پښتنو وې، نو د دې قوت د ماتولو لپاره دا اولنی استعماري غاصب دی چې د پښتنو خاوره او پښتون قام يې ځلور ټوټې کړ. د دې نه مخکې چې هر تيری کوونکی راغلی دی دوی ورسره جنګېدلي دي. مغولو هم له انګريزانو نه مخکې دا کوښښ کړی و چې پښتانه کمزوري کړي او سپک يې کړي خو هغوی په دې کې نه وو بريالي شوي.

**وردګ صاحب! په دنيا کې يوازې پښتون (افغان) قوم نه دی تقسيم شوی بلکې کڼ قومونه تقسيم شوي دي. له دويمې نړيوالې جګړې نه وروسته المانيان هم دې حاوي قوتونو ځلور تقسيمه کړي وو، چې وروسته بيا په مغربي او مشرقي جرمني ياديدل. خو په دوی کې دومره ملي احساس پياوړی شوی و، قومي تړون پکې ده قسمتي دا چې موږ تقسيم يو مګر په موږ کې لا دا جذبه او دا ملي احساس نه دی پيدا شوی، زموږ ډېر لوستي خلک، عالمان او پوهان هم د قومي وحدت خبرې ته غوږ نه ږدي. وردګ صاحب زه په دې نظر يم چې تر څو پورې پښتنو خپل قومي وحدت نه وي ترلاسه کړی نو د يوه قوم په حيث د دوی هېڅ احترام نه کېږي.**



د ښي اړخه کين اړخ ته: افضل خان (خان لالا)، خدای(ج) بخښلی کبير ستوري او اجمل خان خټک

زما ټول سياست د همدغې يوې جملې (پښتون قامي وحدت) دی، که زه د ولي خان په ژوند له ANP نه جدا شوم نو وجه يې دا وه چې ANP له مسلم ليګ سره اتحاد وکړ، نو ما خان عبدالولي خان ته په واضح ټکو کې وويل چې دا U-Turn دی او ما د دې فيصلې مخالفت وکړ ځکه چې زه د پښتون قام د وحدت فکر کوم او دغه اتحاد زما د مفکورې ضد و، نو ما خپل طرف نه شو بدلولی او د پښتونخوا قومي پارټۍ په نوم مې خپل سياست جاري وساته. لس کاله پس چې کله ANP (عوامي نشنل پارټي) له نوازشريف سره چې

دومره پياوړی و چې هغوی په ٤٥ کلونو کې هغه خپل قومي وحدت بيا حاصل کړ. زموږ د افغانانو بد خپل اتحاد ختم کړ نو بيان يې جاري کړ



د پښتو د عالمي کانګرس مشر پوهاند جهانزيب نياز او خان لالا په پېښور کې د ارواښاد ستوري په ياد غونډه کې

پښتون يم زه خپل تشخص غواړم او تاسې وايئ چې نه! ستاسې خپله پېژندګلوي او تشخص نشته. بيا سپيکر وويل چې ته دا نه شي ويلی چې دا د ائين (قانون)

چې دغه اتحاد غير فطري و، دغه وخت ولي خان ژوندی و ما ورته وويل دغه اتحاد غير فطري نه بلکې U-Turn و، اوس که موږ بيا يو ځای شوو، نو هم په دې يو ځای شولو چې ANP خپل منشور کې ترميم وکړ او په درېيمه ماده کې يې وليکل چې: ((د پر امنه او جمهوري هڅو په ذريعه د پښتون قومي وحدت زموږ مرام دی.))

وردګ صاحب! دا چې تاسې وويل د افغانستان پښتانه او د پاکستان پښتانه، نو ما د پارلمان په اولني تقرير کې دې صوبې ته پښتونخوا و ويله نو د قومي اسمبلۍ سپيکر (وياند) چې هغه په خپله هم پښتون و، ترين و، د ايوب خان زوی ګوهر ايوب و. زه يې منع کړم، هغه و ويل چې په پاکستان کې د پښتونخوا په نوم هيڅ ځای نشته. نو دغه وخت ما په اسمبلۍ کې په استحصال باندې خبره کوله او زما ذهن دا دی چې په کومه معاشره (ټولنه) کې د استحصال ګراف لوړېږي نو هغه زما په نزد نه جمهوري ده او نه ازادي. او په کومه ټولنه کې چې د استحصال ګراف ټيټېږي هغه ازاده هم ده او جمهوري هم ده. نو ما ورته و ويل چې زه په استحصال خبره کوم نو د دې نه زيات استحصال شته چې زه و ويل خلاف ورزي کوي. يو تن پکې و ويل چې د ملک د ماتبدو

خلاف ورزي کوې. يو تن پکې وويل چې د ملک د ماتېدو خبرې کوې. نو ما ورته وويل چې د کوم ايين (قانون) چې دوی خبرې کوي دغه ايين ماله بنيادي حقوق راکړي دي او په بنيادي (بنسټيز) حقوقو کې اولنی حق دا دی چې د ((تقرير او تحرير ازادي)) نو که زه د پارلمان د غړي په حيث په پارلمان کې خپل حق نه شم استعمالولی نو زه بيا کوم ځای کې خپل حق استعمال کړم. نو بيا سپيکر ماته وويل چې ته يې ويلی شې خو د خپلې پارټۍ او ګوند له طرف نه. نو ما ورته وويل چې سپيکر صيب زه د

نواز شريف خلاف د وزير اعظمی منصب ته ولاړ يم نو دا خو د مخکې نه ښکاره وه چې د هغه په House (پارلمان، قومي اسمبلی) کې دوه پر درې اکثريت و او هغه به يې ګټي. زموږ د پارټيو يو اتحاد د PDA په نامه و نو په هغې کې بينظير بوټو ماته وويل چې خان صيب همدغه شان ورته دا سيټ نه پرېږدو ته يې مقابله وکړه. نو ما سپيکر (ګوهر ايوب) ته وويل چې ايلکشن (ټاکنې) نواز شريف ګټلې دي انتخاب هم هغه دی زه خو د خپل ګوند له طرفه وايم نو بيا هغه سره ځواب نه و، نو دا خبره بيا په عام ډول مشهوره شوه چې په پښتنو کې به هم چا تقرير کاوه نو هغوی به هم صوبه پښتونخوا ويله. د پاکستان ماحول خو داسې دی چې صوبه پښتونخوا ته هم تيار نه دي، پښتونستان ته هم تيار نه دي، يانې هغه لفظ چې د هغې نه د پښتنو (افغانانو) شناخت کېږي هغه ته نه تياريږي. نو بيا صحافيانو (ژورناليستانو) مانه پوښتنې کولې، يو په دې ډېر کلک و او دې ته نه راتلو چې صوبه پښتونخوا ووايي، نو ما ورته وويل. که تاسې د دې نوم نه زياته وېره لرئ نو بيا دلته چې کوم پښتانه اوسي دغې صوبې ته جنوبي افغانستان نوم ورکړئ زموږ پرې اعتراض نشته. په پاکستان کې د هغې مثال شته لکه مغربي پنجاب، مشرقي پنجاب، مغربي بنګال، مشرقي بنګال. دغه کوم افغانستان چې احمدشاه بابا د قوم په مرسته جوړ کړی و په هغه کې پښتون من حيث القوم يو و، دا خو انګريز دا عمل کړی دی چې دا يې جدا کړي دي.

نو اصلي خبره داسې ده چې زموږ يوه خاوره ده د پښتنو (افغانانو) خاوره د بحرصغير هند حصه نه وه، دا خاوره د منځنۍ اسيا او بحر صغير هند ترمنځ پرته ده. پښتنو ته په تاريخ کې چا هندوستانی نه دی ويلی او نه ده (پښتون) هندوستانی د ځان سيال ګڼلی دی. د پښتنو خپل نومونه دي، عرب ورته سليمانی وايي، هندوستانيان ورته پټان وايي او پدې خپله خاوره موږ د پښتون، افغان او روهيله په نومونو ياد شوي يو او ځان ته پښتانه وايو. نو زموږ چې کوم تاريخ ليکل شوی دی هغه معلوم دی چې دا يو قوم دی او د دوی خپلې کارنامې دي. له تقسيم نه مخکې د پښتنو (افغانانو) تاريخ دومره د فخر وړ دی چې ډېر په مشکله به ورسره نور قومونه سيالي کوي خو له دې تقسيم نه پس موږ په هر اړخ باندې پسمانده پاتې شوي يو. په تعليم کې، په اقتصاد کې، په معاشرت کې، په ساينس او ټيکنالوژۍ او داسې نورو کې پسمانده يو نو بله لار نشته بې غير له دې نه چې موږ خپل قومي وحدت بيا حاصل کړو.

**وردګ**: خان لالا دغه تش په نامه د ډيورنډ کرغېړنه کرښه چې افغان ولس يې په ظاهر کې ټوټه او نيم کړی دی، هيڅ راز داسې يو منطقي او قانوني دليل او يا کوم سند نه ليدل کېږي چې ببلول يې حقوقي اعتبار ولري. تاسې د دې کرغېړنې کرښې په هکله څه وايئ؟

**خان لالا**: وردګ صاحب! زه به په لنډ ډول ذکر وکړم چې انګرېز د تزاري روس د مخنيوي لپاره د پښتنو خاورې ته راغی که نه نو انګريزان له جنوب نه له سمندر د لارې هندوستان ته راغلي وو او

هندوستان ډېر په اسانه د هغوی په ځولی کې غورځېدلی و. دلته چې راغی نو هغه وخت انګریز یو داسې حاوي قوت و لکه څنګه چې نن امریکا حاوي (حاکمه) ده. نو داسې دره، داسې ګودر او داسې دښته پاتې نه شوه چې په هغې کې د انګریز وینه د افغانانو له وینې سره یو ځای توی شوې نه شوه. نو دې خبرې انګریز ډېر په مشکلاتو کې واچاوه، نو انګریز یوه پالیسي اختیار کړه چې هغوی ورته Forward policy وایي چې څوک درته نېغېږي ویې چقوه او مخ په وړاندې ځه چې د دې پالیسی تار تر امو دریاب پورې ورسید. د پښتنو (افغانانو) دا فطرت دی چې پښتنو ته ماتې ورکولی شي خو په دوی شکست قبولی نشي. دی به تا راپرځولی وي خو وایې به چې درپاڅم به که نه. نو د همدې جذبې لاندې په دویم ژمي کې د شهزاده اکبرخان په مشری کې افغانان راپاڅېدل او د انګریزانو ۱۳۷۳٤ پوځیان یې و وژل نو لکه چې ما مخکې وویل انګریز دا تجزیه وکړه چې موږ چا ختم کړو. څکه په افغانانو کې نور قومونه لکه ترکمن، تاجک، ازبک، نورستاني او نور هم شته. انګریزان دې نتیجې ته ورسیدل چې په افغانانو کې دا متې د پښتنو دي، نو هغوی دا اراده وکړه چې دا قوت به ماتوو هغوی یوه بله پالیسي راوښکله چې هغې ته Static یا Contain پالیسي وایي. مطلب یې دا و چې یوه کرښه راکاږه د هغې نه بره هېڅ کار مه لره او لاندې خپل کار کوه. دا پالیسي هم کامیابه نه شوه ځکه پر انګریزانو پښتنو له هرې خوانه غزاګانې کولې، له مومندو نه د حاجي صاحب ترونګزو په مشری، د وزیرستان نه د فقیر ایپي په مشری، د یوسفزو له طرف نه په امبیله غزاګانې کېدلې، اپریدو په پېښور او چونی غزاګانې کولې نو د دې نه پس انګریزانو یوه بله پالیسي اختیار کړه چې هغې ته درې غبرګي سرحد (three fold from tier) وایي، سرحد یو وي خو هغوی درې کرښې راښکلې. اولنی کرښه یې د امو په دریاب را وکښله چې دغه کرښه د تاج برتانیه او د تزار روس په منځ کې سرحد و. په دې کې چې د افغانانو له خوا کومه ډله وه د هغې مشري هم افغان نه کوله ((سایمن)) انګریز کوله چې هغه په سایمن کمیشن باندې مشهور و. بله کرښه د ډیورنډ ده. د ډیورنډ کرښه چې چا هغه وخت کې راکښله هغه هم سرحد نه و، د ډیورنډ کرښې لاندې بیا بله کرښه ده چې د هغې نه بیا لاندې رات (رعیت) دی چې (Setteld Area) ورته انګریزي کې وایي چې دغه لاندې کرښه د برتانوي هند سرحد و د برتانوي هند سرحدي قواوې چې هغوی ته Frontier Core او Frontier Constabulary فرانټیرکور او فرانټیر کنسټیبلري وایي د هغې څوکې د دغې کرښې نه بره د ډیورنډ طرف ته نه شته. د دغې کرښې او د ډیورنډ کرښې په منځ کې چې کوم پښتانه پراته دي هغه یې قبایل و ګرځول. د انګریزانو په وخت کې چې هغوی دغه کرښه راکښلې وه نو د سړک نه علاوه چا دا تپوس نه کاوه چې د دې کرښې نه پاس افغانان راځي او که لاندې افغانان راځي. په سړک باندې هم ویزه او پاسپورټ نه و، په Road Pass روډ پاس به تلل راتلل، دا کرښه د سره سرحد نه و چا چې دا کرښې راکښلې نو د هغوی هم دا په تصور کې نه وه چې ٥٤ کاله پس به یو نوی ملک د پاکستان په نوم رازیږیږي او هغه به بیا د ډیورنډ کرښه خپل نړیوال سرحد ګرځوي او پاکستان دا کوښښ کوي چې دا کرښه نړیوال سرحد کړي چې تراوسه پورې ورسره یو افغان حکومت نه ده منلې چې بل فریق یې ورسره ونه منې نو دا سرحد هېڅکله هم نه شي کېدی.

هغه حکومت هم نه ده ورسره منلې چې په پېښور کې د پاکستان وزیراعظم نوازشریف په صدارت کې د افغانستان لپاره جوړ شو. اولنی مشر یې صبغت الله مجددي

و او درې میاشتې پس بیا پروفیسور رباني و چې د هغوی کورونه هم په پاکستان کې وو. بیا هغه حکومت ورسره هم نه ده منلې چې هغه د پاکستان حکومت د بې نظیر بوټو په وخت کې د نصیرالله بابر په مشرۍ کې طالبان راپیدا کړل، هغه یې تربیه کړل، مسلح یې کړل او د ISI په سرکردګۍ کې یې افغانستان ته داخل کړل. یو افغان حکومت دانه شي منلی ځکه دا کرښه یو قوم نه، بلکې یو ورور، یو یو کور او یو یو خاندان تقسیموي، یوه یوه قبیله تقسیموي. دا پښتون (افغان) قوم یو فطري وحدت دی، د ده خاوره او ژبه هم یو وحدت دی. دوی کې لر او بر نشته، دا یو افغان واحد ملت دی.

**وردګ**: افغان چارواکي، افغان ولس په تېره پښتانه په دې هکله څه باید وکړي؟

**خان لالا**: وردګ صاحب! په موږ کې دا ملي احساس نشته، زموږ لوستي افغانان دې خبرې ته تیار څه چې هغوی یې قبلوي هم نه. نن زموږ د پارلمان (افغان ولسي جرګه) پښتانه غړي پر ځای د دې چې پخپله د وحدت خبره وکړي موږ ته وایي چې که تاسې دلته کې پوره غورځنګ نه وي پیدا کړی نو دا خبره موږ ته تاوان دی او موږ ته هم وایي چې دا مه وایئ. **بل خوا عطامحمد نور د مزارشریف ګورنر (والي) یوې غونډې ته خپل خطاب کې وایي: د افغانستان ستونزه په دې کې ده چې افغانستان د ډیورنډ کرښه نړیواله سرحدي پوله نه قبلوي او باید چې افغانان یې (په رسمیت وپیژني) ما چې کله دا خبر واورید او ومې لوست نو په دویمه ورځ مې دا بیان ورکړ: چې عطامحمد نور ته دا وایم چې که افغان پښتانه خپل وحدت بیا ومومي نو ستا وزن به که د دې شته نه یو په سل نه وي نو یو په لس به خامخا زیات شي.** نو ته ولې دا کوښښ کوې چې پښتانه دې په دایمي توګه تقسیم پاتې شي. نو د افسوس خبره داده چې په افغانانو کې د قومي وحدت دا جذبه، دا حس نه دی پیاوړی شوی بلکې پیدا شوی هم نه دی. نو وردګ صیب دا ستاسو په شان د اهل قلمو، په میډیا کې چې دست رس لرئ فرض جوړېږي چې هغه دې طرف ته توجه وکړي او یوازې دا نه چې په اخبارونو او مجلو کې بلکې په الکټرونیک میډیا کې د قومي وحدت خبره عامه کړي. هغه ورونه چې په یورپ، امریکا او ترقي یافته ملکونو کې اوسي د هغوی لا زیات فرض جوړېږي چې دا مفکوره، دا حقیقت سرته راولي او دنیا ته وښایي چې «پښتون قامي وحدت» زموږ حق دی او زموږ سره ډېر ظلم شوی دی. په تاریخ کې او په قانون کې د غاصب عمل قانوني جواز نه لري د هغه پایه داري نه وي، نو که دا استعماري کرښې له منځه لاړې شي افغانان به خپل قومي وحدت بیا مومي، په سیمه کې به امن راشي او یو تاریخي سرلوړی، پیاوړی افغان ملت به په خپلو پښو ودرېږي.

**وردګ**: خان لالا ته د څو بدنامو ګوډاګیو په بازاري خبرو مه خپه کېږه دا لویې ملي خبرې د دوی تر سپک وزن، وړې خولې او خام فکر نه ډېرې ډېرې درنې دي. افغانان وایي: کاروان تېرېږي سپي غپېږي. خان صیب ته دا راته ووایه چې دا پنجابیان په څه دلیل او کوم منطق افغان تاریخي خاوره او وګړي یې د ځان ګڼي؟ او د دې پایله به څه وي؟

**خان لالا**: پاکستان ځان د انګریزانو وارث ګڼي. د پښتو دا متل چې «خدایه د کمزوري زورور له زوره مې وساتې» کمزوري چې زورور شي نو هغه په دې هم نه پوهېږي چې ستانه جامې څنګه وباسي او تا سره څه عمل وکړي. اوس پنجاب خپل تاریخ نه لري، په پنجاب ټول عمر افغانان راغلي دي

او په هغوی حاکم پاتې شوي دي او دا حقیقت و چې ټول هندوستان د خپلو مسالو د هوارولو لپاره به افغانانو ته کتل چې افغانان به راځي او زموږ مسالې به حلوي. ما په پارلمان کې وویل چې ټول هندوستان خو پرېږده، پوره پنجاب هم پرېږده، ترقي یافته پنجاب په هندوستان کې دی هغه نیم پسمانده پنجاب نن غواړي چې په پښتنو (افغانانو) سورلي وکړي. په موجوده وخت کې دا مفکوره ځکه منځ ته راځي چې په افغانانو کې لا دا احساس پیاوړی شوی نه دی او بیداري پکې نه ده راغلې. خو زما دا یقین دی چې دا حالات په دې حال نه پاتې کېږي. ډېر زر به پښتنو (افغانانو) ته خپل ماضي مخ ته ودرېږي او د دې احساس به ورته پیدا کېږي. نو چې کله به پښتنو (افغانانو) کې دا ملي احساس پیدا شو بیا د دې سوال نه پیدا کېږي چې پنجاب یا پرې بل څوک سورلي وکړي.

**وردګ**: په سلګونو کلونو پښتانه د دې ملک حاکمان پاتې شوي، پړه نو پخپله د پښتنو ده، ځکه هر څه چې شوي او یا هر څه چې اوس کېږي پښتنو پخپله پر ځان کړي دي، نو ولې دا پړه پر نورو واچوو؟

**خان لالا**: وردګ صیب! زه د محمدزیو او بارکزیو پاچاهانو دور ته د پښتنو دوره نه وایم. زه وایم چې اقلیت د اکثریت د نماینده په ذریعه په اکثریت حکومت کړی دی. اوس هم په موجوده افغانستان کې «موجوده ځکه ورته وایم چې احمدشاه بابا چې د قوم په مرسته کوم افغانستان جوړ کړی و هغه په ۱۸۹۳ ز کال کې تجزیه شوی دی» نن ٦۷ سلنه پښتانه او ۱۲ سلنه تاجک خو اختیار د هغه ۱۲ یا څوارلس فیصده سره دی او له دوی سره دا ویره ده که چېرې پښتنو خپل قومي وحدت بیا موند نو کېدای شي چې بیا پرې موږ مشري ونه کړای شو.

**وردګ**: دا ډرامه به تر کله روانه وي؟

**خان لالا**: وردګ صیب! **زه د څو کالو نه راپه دې خوا دا خبره کوم چې دا منطقه په دې حالت نه پاتې کېږي، په دې کې تبدیلي را روانه ده او زما سیاسي حس ماته دا وایي چې دا تبدیلي را روانه ده خو زه په دلیل سره دا نه شم**




**ویلی چې دا تبدیلي څنګه را روانه ده خو اوس چې د ناټو او امریکا پوځونه افغانستان ته راغلل نو زه دا وایم چې دا د هغې تبدیلۍ او هغه بدلون اولنی قدم او اغاز دی.**

**وردګ**: خبره د امریکا، ناټو او تبدیلۍ شوه. په دې تبدیلۍ کې خو بیا هم ګورئ چې هره ورځ د پښتنو افغانانو عام وژنه روانه ده، د اسمان نه پرې د بمونو باران را اوري او پر مځکه د قصاب په غولي چړو ته پراته دي. پنجابي مداریان د همدغو لویدیزوالو په مرسته د تروریستۍ اډې جوړې کړې دي، یوه پښتون ته په ملا بمونه ور وتړي او ګڼ نور پښتانه پرې والوزوي، یانې هم مو دوی وژني او هم افغان په افغان وژني، دا هر څه د دوی په ملاتړ، مادي مرستو او ډالرو سرته رسیږي. هغه د شاعر خبره ده: «چې هم وژل کا هم ژړا» ولس ته اوس هر څه روښانه شوي او د دغو نخرو عیني شاهدان دي. افغان تاریخ هم شاهد دی هرکله چې استعمارګر راغلي دي یا یې وژل او سیځل کړي دي یا هم د ملک تجزیه. نو دا نوی بدلون به مثبت وي او که بله تجزیه یا غمیزه؟

**خان لالا**: وردګ صیب! دلته کې عالمي «نړیوال» قوتونه او امریکا د خپل سپر پاور د مفاداتو لپاره راغلي دي. هغه د چین مخنیوی کوي او د وسطي اشیا «منځنۍ اسیا» منابع خپل تصرف کې راولي او که دلته څه بدلون کیږي نو تر خپلو مفاداتو لاندې به یې راولي.

ډېره لویه د بدقسمتۍ خبره ده چې اول دوه عالمي «نړیوال» قوتونه دلته راغلل چې زموږ ورسره هېڅ سروکار نه و، هغوی خپل جنګ زموږ په خاوره وکړ او په لکونو افغانان شهیدان شول. اوس چې دا بل سپر پاور دلته راغلی دی خپل مفادات زموږ په خاوره باندې مخکې کوي.

**وردګ صیب! تاریخ موږ نه ډېر مخکې تللی دی او موږ شاته پاتې یو. چې څومره زر کېدای شي په دغه قوم کې حس را پیدا شي، یوه قومي خوله زموږ پیدا شي، یو قومي ترجمان زموږ پیدا شي چې که دغه تقسیم یا بدلون کیږي چې په دغه بدلون کې زموږ چې کوم قومي حق دی چې د هغه موثره نشاندهي وشي او په دغه بنیاد دا بدلون راشي څوارلس د بره سل کاله خو په دې کې پاتې او تاواني شولو خدای مه کړه چې نور تاواني نه شو، خو که زموږ یو اواز نه وي، یوه خوله نه وو نو ډېر امکان شته چې تاواني شو نو په همدې وجه زه دا خبره کوم چې څومره زر کېدای شي موږ ټول افغانان دې طرف ته متوجه شو چې دا احساس د دغه قوم په ذهن او عزم کې راشي.**

که یو طرف ته پښتانه هر څومره شاته پاتې شوي دي او څومره بې اتفاقه دي د تربګنۍ له لاسه در په در دي اتفاق نلري نو بل طرف ته زما دا یقین هم دی که دوی یوه اراده وکړي او ملاوتړي نو بیا پکې دا صلاحیت شته چې کوم قام یو کار په کالونو او میاشتو کې کوي نو دوی بیا هغه په ورځو کې سرته رسوي. نو خدای دې وکړي چې له دغه بدلون نه مخکې د پښتنو قومي وجود، واحده قومي خوله او قومي ترجمان پیدا شي چې که دا بدلون کیږي، زموږ په ښېګڼه کې وشي دا نه چې موږ ته نور تاوان را ورسیږي.

**وردګ**: خان لالا که لږ سپینې خبرې وکړو تاریخ ګواه دی او دا درې لسیزې یې موږ او تاسې په خپله ژوندي عیني شاهدان یو، چې ګاونډي تاریخي دښمنان او افغان دښمنې ډلې د لویدیز او کمونیزم په ګډون افغانان یوې خولې او یوه ترجمان ته نه پرېږدي. او بله اصلي خبره خو دا ده چې خپله افغانان بې هم ظرفیت لري چې یوه خوله شي. افغانان اسلامي اوامر هم نه مني چې د ملي وحدت روحیه خپله کړي. افغاني او پښتونولي دود هم تر پښو لاندې کوي. د ملي احساس احساس څښتن افغانان یا لږ یا په

ډېر کم اقلیت کې دي، هغوی هم استعمار او یا یې ګوډاګیان نه پرېږدي چې میدان ته شي. زما منظور د عام ولس نه دی زه هغه ناروغه روښاندي، بې فرهنګه فرهنګیان، مرتجع سیاستوال او نورو راته جوړ کړي لیډران او رهبران یادوم. خان لالا زما په خبرو کې که څه بې ادبي شوې وي، زه بښنه غواړم، مګر دا هغه تریخ حقیقت دی چې ما ووایه. د یوه افغان سیاستپوه په توګه ستاسو نظر څه دی؟

**خان لالا**: بنیادي خبره همداده چې موږ په دې څوارلس د برہ سل کاله کې خپل حق ترلاسه نه کړ بلکې زه دا خبره په عام طور کوم چې موږ کې ملي احساس کمتري پیدا شوې ده. وردګ صیب که تاسې خیال کړی وي اوس هم چې زموږ یو پښتون لیکوال یا عالم یا پوهان یوه مجله یا یو اخبار راوباسي نو که موږ نیمه حصه فارسي ته نه ورکوو نو دریيمه حصه خو خامخا ورکوو خو د دې په مقابله کې فارسیوان مجله یا اخبار وباسي نو هغه پښتو ته یوه کرښه هم نه ورکوي. زموږ د تاریخ په دې دور کې چې پښتو په ۱۷۱۰ کې د میرویس بابا په مشرۍ کې سیاسي ازادي واخسته چې بیا وروسته د احمدشاه بابا په سرکردګۍ او مشرۍ کې نوره پیاوړې کړه خو د بدقسمتۍ نه ژبنۍ او کولتوري ازادي یې وانخسته او همغه زړه ژبه او زوړ کولتور په دفترونو کې پاتې شو. نو په همدې وجه لکه څنګه چې ما مخکې هم ویلي د بارکزو او محمد زو پاچاهانو دور د پښتنو دور نه دی او اقلیت د اکثریت د نماینده په ذریعه په اکثریت حکومت کړی دی.

وردګ صیب! په موږ کې قومي شعور نه شته. د مثال په توګه دا دی نن امریکنیان (امریکایان) افغانستان ته راغلل **زما په نزد د امریکایانو او پښتنو تصادم (ټکر) بې ځایه دی څکه چې تصادم (جنګ) په مفاداتو (ګټو) راځي. د امریکایانو د سپر پاور په حیث چې کوم مفادات دي هغه زموږ نه دي. نه زموږ کېدای شي او نه موږ د دې د عویدار یو. موږ انګریز تقسیم کړي یو، موږ خپل ملي قومي وحدت غواړو. زموږ قومي وحدت د امریکې پر ضد نه دی که دا قومي وحدت وشي نو په دې منطقه کې به امن راشي. چې د پښتنو (افغانانو) قومي وحدت ونه شوی نو امن نه شي راتللی مثال یې دا دی که یو وجود په منځ نیم کړې نو تر څو پورې چې دې کنډلی نه وي نو د هغې وینه نه بندیږي.**

**امریکایان چې زموږ خاورې ته راتلل نو د افغانانو په خاوره د بدقسمتۍ نه د طالبانو حکومت و. طالبان په قوم پښتانه وو خو هغوی ځان ته طالبان ویل، پښتانه یې نه ویل.**

امریکایان چې دلته راغلل نو هغوی ته وسله ورکول او ډالر ورکول مشکل نه وو، هغوی ته دا مشکل وو، چې د امریکني تابوت امریکا ته لاړ نه شي نو هغوی دلته کې ځان ته ملګري غوښتل. وردګ صیب شمالي اتحاد هم شریعت نافذاوه او طالبانو هم شریعت نافذول غوښتل، مقصد یې یو و، په شریعت کې تور او سپین نشته. په طالبانو کې دا شعور نه و، هغوی وویل چې اسامه بن لادن او القاعدې والا د امریکا سي ای اې له طالبانو نه ډېر مخکې راوستلي وو دوی نه راغوښتي دي او نه د دوی میلمانه وو که چېرې دوی راغوښتي وای نو ټیک ده چې هر څه شوي وای څکه د پښتنو روایت دا دی چې هغه خپل میلمه چا ته نه ورکوي. دا د CIA میلمانه وو او

CIA راوستي وو او CIA چې ورسره کومه خبره کوله هغې سره د دوی هېڅ سراو کار نه و. او بیا دا چې طالبانو سره دا شعور نه و چې موږ کوم قوت سره تصادم (ټکر) کوو. ایا موږ د دې جوګه یو چې له دغه قوت سره تصادم (ټکر، جنګ) وکړو. لاکن شمالي اتحاد له هغوی سره همکاري وکړه نتیجه دا شوه چې کله حامد کرزی د بن د معاهدې لاندې افغانستان ته راغی نو شمالي اتحاد په ټول افغانستان قابض و. سره د دې چې امریکا ورته ویلي و، چې کابل ته به نه ننوځي نو هغوی کابل ته هم ننوتي وو او تر اوسه پورې هغه قابض دی.

د جهاد او جنګونو په وخت کې چې دلته زموږ افغانان وروڼه راغلي وو ماورته کله هم د مهاجر کلمه نه ده استعمال کړې، ما ورته همیشه ویلي دي چې دا د دوی د خپل پلارنیکه ملک او خاوره ده دا شریکه یوه خاوره ده چې که څوک دلته اوسي او که هلته که په لاندې تکلیف راغلی بر تللي او که په برو تکلیف راغلی لاندې تللي دي خو زموږ دغه وروڼه چې کوم دي دوی کې یو تن هم خپل قومي وحدت ته د سرغوړ نه ایښوده. زه چې اوس په اول وار کابل ته تللی وم نو هلته د کابینې څنې وزیرانو لکه امین ارسلا، احدي صیب او نورو هم همدا خبره کوله او حامد کرزي صیب ته ما وویل چې که په قومي وحدت باندې ته زما نه زیات واضح نه یې نو کم هم نه یې او په دې وجه باندې زما زړه ډېر غټ شو چې زه تا ته خبره کوم. تاسې باید امریکا ته دا وښایئ چې زموږ او ستاسې د مفاداتو تصادم نشته او دا جنګ هسې پیدا شوی دی. ما ورته وویل که په دې کې ستا حیثیت د یو ایجینټ (نماینده) شو نو تاته هم تاوان دی او ستا قوم ته هم تاوان دی. او که په دې کې ستا حیثیت د یو اتحادي شو د مساوي درجې شو نو تاته هم فایده ده او ستا قوم ته هم فایده ده. نو زه به یو ځل بیا ووایم چې زموږ عالمانو او پوهانو ته دې خدای د نیکۍ هدایت وکړي چې د دې خپل قوم فکر وکړي او په داسې لار روان شي چې دا کور نور وران نه شي.

**وردګ**: قدرمنه مشره داسې مې اوریدلي دي کله چې تاسو ننګرهار او کابل ته تشریف وړی وو په ویزه تللي وئ، دا ربنتیا ده چې خپل وطن ته په ویزه تللي وئ؟

**خان لالا: وردګ صیب! ما په جلال اباد کې په خپله وینا کې وویل چې ماته ډېر لوی افسوس دی چې زما دا دویم وار دی چې خپل ملک او وطن افغانستان ته زه په ویزه راغلی یم. د دې نه مخکې زه د انګریزانو په وخت کې هم راغلی وم په هغه وخت کې زه په ویزه نه یم راغلی. زه افغان یم او افغانستان چې زه یې خپل کور ګڼم چې هغې ته زه په ویزه راځم نو د هغې خو دا ښکاره او صفا مطلب دی چې زه دا حق نه لرم چې افغانستان ته خپل کور ووایم.**

**وردګ**: ډېره جالبه او حیرانوونکې خبره ده، ما دا خبره اوریدلې وه مګر خدای مې شاهد دی چې د منلو راته نه وه. دا کوم د افغانیت، انسانیت او اسلامیت تعریف دی چې یو افغان دې خپل کور، وطن او پلرني ټاټوبي ته په ویزه راشي. خان لالا دا د افسوس خبره نه ده دا ډېره د شرم خبره ده، زه خو د وجدان په حکم د یوه افغان په صفت په دې خبره ډېر و شرمېدلم شخصاً بل ځواب تاسو ته نه لرم. خو یوه خبره د افغان په توګه په جرئت تاسو ته کول غواړم او هغه ومنئ، دا کار د اصلي افغانانو کار نه دی، دا د افغان قهرمان ولس کار نه دی، افغان خپله خاوره نه خرڅوي او خپل وطنوال نه پردي کوي. مګر موږ ولیدل چې ګوډاګیو رژیمونو افغانستان وران، افغانان بې کوره،

بې وطنه او پر دې کړل. دا زموږ د خپلو حماقت وو که د تاریخ جبر، دا ټول وشول. سربیره پر دې که افغانان بیا هم له یوه بې کفایته ګوډاګي حکومت نه د ملي احساس توقع ولري دا ځل به دا بله لویه ګناه او یوه بله لویه تېروتنه وي. پښتون وژنه، پښتون شرمونه او پښتون ختمونه د دوی ورځنۍ اصلي چارې دي. وګورئ کابل د ټول افغانستان او ټولو افغانانو پلازمېنه ده، په کابل کې په سلو کې شپېته پښتانه هستوګن دي، خو پښتون باید په ویزه ورته راشي. پښتون باید پکې سپک شي، پښتو ویل پکې لویه ګناه ده ځکه چې ملي وحدت ته یې زیان ګني، په پښتو ژبه پوهنتون، لیسه، متوسطه لا پرېږده چې په پښتو ژبه یوه لومړني ښوونځي ته هم اجازه پکې نشته. حتا د دوکانو او ټرافیکو یوه لوحه هم په پښتو نشي لیدلی، داسې یوه ملک او ښار ته پښتون باید په ویزه راشي. تاسې په دې هکله د یوه افغان قومي مشر په صفت په ارګ کې ناست پښتون ولسمشر ته څه پیغام لرئ؟

**خان لالا**: په کابل کې به ستا ذهن ته هېڅکله دا رانه شي چې دا کابل د پښتنو ښار دی. یا به درسره فارسي وايي او که په فارسي نه پوهېږې نو انګریزي به درسره وايي. د ابادۍ په تناسب چې هر څه وي وي به خو کابل ښار د پښتنو نه حسابېږي، هغه د فارسیوانانو ښار دی.

وردګ صیب! لکه څنګه چې ما مخکې درته وویل په موږ کې احساس کمتري پیدا شوې ده. زموږ په ځینو شاعرانو، لیکوالانو، ادیبانو او پوهانو کې احساس کمتري پیدا شوې ده. پر ځای د دې چې خپلې ژبې او کولتور ته پرمختیا ورکړي، دوی د پهلوي فارسي لپاره کار کوي.

زه په پېښور کې د افغانستان قنسلګرۍ ته ورغلی وم، ما سره زما یو بل ملګری چې د ستوډنټس فیډرشن مشر پاتې شوی ریاض خټک نومېږي و. ما ورته وویل چې دلته په دې قنسلګرۍ کې دې څه احساس وکړ، نو د هغو ورته پام نه و. نو ما ورته وویل چې زه ور ننوتلم او بیرته ترې را وتلم نو ما په دې قنسلګرۍ کې دوه ژبې ولیدې چې یوه یې انګریزي او بله یې فارسي. نو دا د افغانستان قنسلګري ده په کراچۍ کې نه ده په لاهور کې نه ده، په پېښور کې ده لاکن په دې کې انګریزي ژبه شته، فارسي ژبه شته او پښتو ژبه نشته. ټیک ده چې تاجک، هزاره، ترکمن، ازبک، نورستاني او نور ټول افغانان دي، زموږ ورونه دي کم از کم په دې افغانستان کې دې پښتنو ته د خپلې ابادۍ (شمېر) په تناسب خپل حق ورکړي او که د شمېر په تناسب پښتون خپل حق نه شي اخستلی نو بیا یې د ازاد حیثیت نشته، بیایې د غلام حیثیت دی.

که د پېښور قنسلګرۍ ته پام وکړو نو جنرال قنسل فارسي وان نه دی هغه د فراه خان دی لیکن حالات دا دي چې پښتو ژبه پکې نشته یوازې فارسي او انګریزي چلېږي.

**وردګ صیب! زموږ د افغانستان د پارلمان یو غړي زموږ د اپریدو یو ملګري ته ویلي و چې که دلته کې تاسې پوره غورځنګ جوړ کړئ او د وحدت خبره کوئ نو صحي ده او که پوره غورځنګ نه وي نو دا بیا موږ ته تاوان دی.**

**نو زه دغو ورونو ته داسې وایم چې تاسې چې د ډیورنډ د کرښې خبره کوئ نو په داسې انداز کې یې کوئ لکه په موږ چې ډېر احسان کوئ لکه دوی چې د دې نه د سره خبر نه وي دا په موږ احسان نه دی دا عمل انګریز د ټول پښتون (افغان) سره کړی دی او قامي وحدت** یوازې د لاندې پښتنو مسئله نه ده بلکې د

ډیورنډ کرښې پوره قام ویشلی دی، دا یوه قامي مسئله ده، دا یقیناً یو غورځنګ غواړي خو د دې دا مطلب هېڅکله نه دی چې ګنې دغه غورځنګ به دلته جوړېږي او فقط موږ به ورته وده ورکوو. دا د پورته افغانانو هم وظیفه ده چې خپل سیاسي رول ولوبوي او حامد کرزی صیب او نورو ټولو ته دا خبره کوم چې که په ویزه باندې پښتانه افغانستان ته ځي نو بیا خو په غیر شعوري توګه موږ دعه استعماري کرښه خپل سرحد وټاکه. کم از کم افغانانو ته خو باید د پاسپورټ او د ویزې ضرورت نه وي لکه څنګه چې د انګریزانو په وخت کې نه و. خدای وکړي چې دوی زما په خبرو پوهېدلي وي.

**وردګ**: خان لالا اکثریت افغاني مطبوعات حتا د کابل سرکاري رسمي خبري رسنۍ د ملي خیانت خبرې بربنډې په ډاګه کوي د ملک تجزیه غواړي. د کمونستانو د وخت د تجزیې هغه خطرناکه روسي وسله اوس هم په خپل ټول قوت سره استعمالوي چې افغان قومونو ته ملیتونه وایي او په یوه واحد افغان ملت کې ملیتونه جوړوي او په جګ اواز د افغان تاریخي خاورې د لیلام خبر په هسکه غاړه هره ورځ څو څو واره تکراروي او وایي چې: د پاکستان باجوړ، د پاکستان کوټه، د پاکستان شمالي وزیرستان او جنوبي وزیرستان، د پاکستان پېښور او .... که څوک ځینې وپوښتي چې دا ولې د پاکستان؟ په څه منطق د پاکستان؟ ښکاره خبره ده چې ځواب یې نه لري. که دا د افغان خاورې لیلام نه دی نو څه دی؟ دا دی ستاسو نوی بل زیری چې اصیل افغانان باید خپل اصلي وطن او کورته په ویزه لاړ شي. که دا د ډیورنډ په رسمیت پېژندل نه دي نو څه دي؟

دلته د بې کفایته حکومت او سرکاري مطبوعاتو ملي موقف تر سوال لاندې راځي. ولسمشر کرزی د ولس په رایو راغلی دی نه د کودتا له لارې، خو حکومتي چارې یې د یوه ګوډاګي رژیم په څېر د وطن فروشۍ بڼه غوره کړې ده. د دې ټولو ناوړه کارونو اصلي وجه د پخوانه بربنډه شوې ده. لومړی دا چې ولسمشر باکفایته یو ملي کاري ټیم نه لري. بل دا چې د ده په همدې بې کفایته مصلحتي ټیم کې اکثریت مرتجع اپرچونستان، شخصاً د ده دښمنان، ګوډاګیان او د ملت قاتلین ځای پر ځای شوي دي. دا به نو هم ډېره نادیده خبره وي که څوک ووایي په افغانانو کې د ملي شخصیتونو علمي کدرونه نشته. د کرزي په دربار کې د دغو د بړه مارو مطبوعاتي مشاورینو وظیفه څه ده؟ ولې ولسمشر نه خبروي؟ دوی ولې د ملي خپرونو خنډ ګرځي چې ولسمشر یې ونه ګوري؟ ولې دوی غواړي چې ولسمشر د ارګ په تیارو کې وساتي؟ په خپل عمر کې یې چې کتابت نه وو کړی وزیران شول، که کورونه یې نه درلودل قصرونه یې جوړ کړل، که جیبونه یې خالي وو اوس په ډالرو ښه ډک شول، نور نو څه غواړي؟ لږ خو دې د خدای د دې ولس د شهیدانو، کونډو او یتیمانو نه وشرمېږي. که دغه بې کفایته درباریان وي او دغه د دربار دبړه ماران، کرزي او ملت ته دې خدای خیر پېښ کړي.

ولسمشر ته په کار دا ده چې ځانله یو ښه باکفایته کاري ټیم جوړ کړي، ګنې هېڅکله به له تاریخي مسوولیت نه ځان خلاص نشي کړی او د تل لپاره به افغان تاریخ ته یو پړ ولسمشر وي. ډېر وبښئ خان لالا چې زما خبرې هم تکراري وې هم اوږدې. تاسو څه پکې وایئ؟

**خان لالا**: وردګ صیب! دوی ته هېڅ تاوان نشته، زما په نزد دوی د حق اخستلو پر ځای په دې سوچ کوي چې که دوی ته کومه توکړه ورغورځوي نو دا توکړه به منع شي نو دا د افسوس خبره ده چې نن د ۲۱ مې پېړۍ په اغاز کې څوارلس د بره سل کاله پس په موږ کې نن هم دا جذبه نه ده پیدا شوې.

**وردګ**: ستاسو درانه مشر سره

#

د ۵۲ مخ پاتې:

زما خبرې نه دي خلاصې خو وخت خلاص شو. يار زنده صحبت باقي، تاسې چې د سفر په دې بيړني حالت کې زما پوښتنې ځواب کړې ډېره ډېره مننه خان صيب. ښه سفر درته غواړم.

**خان لالا:** وردگ صاحب ډېره مهرباني، خدای دې اباد لره چې کله دې پېښور ته تشريف راوړ نو زما ځای ته حتمي راشه.

#

# لیپه

tural Association

د څرک مدني او کلتوري ټولنې درې میاشتنۍ خپرونه

دویمه دوره، دریمه او څلورمه ګڼه، پرله پسې ګڼه اوومه او اتمه، ۱۳۸۲پسرلی او او

د امتیاز خاوند: څرک مدني او کولتوري ټولنه
TSRAK CIVIL & CULTURAL ASSOCIATION
(TCCA)

د ټولـــنې مشر: نذیر احـــــمد نذیر
د ټولنې سلاکار: محمد آآصف وردګ

## لیه درې میاشتنۍ خپرونه

مسوول چلونکی محمد نبي ساحل

## کتنپلاوی

نذیر احمد سهار محمد اسماعیل نوید

## پتې

کابل:
Opposite military club shash darak,
Kabul Afghanistan
Mob: 0700221340
Email: tcca.kbl@gmail.com
Post: 5686 Kabul central post
M.Asif wardag
Hauptstr 119d, 41372, Germany
Tel/fax: 0049, 02163571 616
Mob. 0049, 0172 262 3500

## کلنۍ ګډون ونډه

| | |
|---|---|
| افغانستان | ۲۵۰ افغانۍ |
| پاکستان | ۳۰۰ کلداري |
| اروپا | ۵۰ یورو |
| امریکا، کانادا | ۱۲۰ مریکایي دالر |

په هېواد کې دیوې ګڼې بیه ۲۰ افغانۍ

## لړلیک

سرلیك

۱- د سر خبرې..............................
۲- جنګ تحمیلشده لعنتیرا بس کنید ..........
۳- متحده ملي جبهه او تازه رسوایي..........
۴- غازي بابا یا محمد جان خان غازی..........
۵- په امریکا کوډې شوې دي ..........
۶- تاثیر ظابطه های زیوپو لتیک برادامه جنګ در ا
۷- خپل ملک او وطن افغانستان ته په ویزه راغلی ی
۸- افغانکشی ویا حرکت شرافتمندانه؟..........
۹- په افغانستان کې د ایران موخې ..........
۱۰- ژبه په ټولنه کې، وینه په لابراتوار کې ..........
۱۱- ایران و ((ایرانی)) از دیدګاه سید جمال الدین افغ
۱۲- ((بلدربرج)) ترحکومتونو لوړه ټولنه ..........
۱۳- جنګ در مقابل ترویرزم..........
۱۴- دست داشتن فرزند استاد ربانی در قاچاق مواد م
۱۵- افغانستان بس نه و؟ ویتنام په عراق کې..........
۱۶- بیرق استاد ربانی در حیدرآباد هند..........
۱۷- په لویدیځ کې نوی سیاسی خوځښت ..........
۱۸- دالاس نیوی به دې تر ډېره یادوم..........